مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد عارف رسولي
۲۰۲۲/۰۳/۱۸

# د حکومتولۍ پېژندنه او اصلاح يې

**سريزه:**

**دا مقاله ځو کاله مخکې ليکل شوې او خپره شوې وه او اوس يې يو ځل بيا يې اړتيا ليدل کېږي چې خپره شي. دا مقاله اوس له يوې بلې خوا هم مهمه ده موږ ټولو دا خبرې بيا بيا تجربه کړې او پايلې مو يې وليدې او کيدی شي دا ځل لوستل يې راته په زړه پورې وي.** په دې مقاله کې د حکومتولۍ په پېژندنه او اهميت باندې خبرې کوو. زموږ په هيواد کې د حکومتولۍ په حالت، ځينو لاملونو او يو شمير حل لارو هم بحث کوو.

## حکومتولي څه ته وايي؟

حکومتولي (حکومتداری) يا Governance څه شی دی. حکومتولي يو ټاکلی، نړيوال قبول شوی تعريف نه لري. ځيني وختونه کله چې خلک حکومتولي يادوي موخه يې په ساده توګه حکومت يا هغه څه وي چې حکومت يې کوي. که څه هم اوس خلک غواړي چې حکومتولي په پراخه مانا وکاروي، چې په هغو کې رسمي او نارسمي ميکانيزمونه، ټولنيز او اقتصادي اغيزې او د دولت رسمي کارونه او نور راځي (نړيوال بانک).
همدارنګه، د يوه بل تعريف په بنا حکومتولي (governance) هغه روښ او طريقه ده دکوم په واسطه چې دولت حاکميت ترلاسه کوی او هغه په کار اچوي تر څو عامه خيزونه او خدمتونه وړاندې کړي. که ښه حکومتولي نه وي نو بيا فساد او درغليو ته لاره اواريږي. درغلي يا (Corruption) د شخصی ګټو لپاره د عامه او دولتی پوست يا واک کارولو ته وايي. په دې ترتيب ګورو چې درغلي او فساد يوازې رشوت نه دی بلکه زيات اړخونه لري.
همدارنګه، په ځينو سکتورونو کې حکومتولي په ځان کې نورمونه، پروسې، وسيلې، خلک، او سازمانونه رانغاړي، کوم چې ټاکي څنګه خلک له اړوندو سکتور لکه ځنګلونو، کرنې، روغتيا، ښوونې او روزنې او نورو سره چلند کوي. دا تعريف زيات څيزونه په ځان کې رانغاړي: دوديز کلتور، د اوس وخت بيوراکرسي، خصوصي مارکيټ او عامه قوانين. ښايي عملي نه وي چې د حکومتولۍ ځيني اړخونه بدل کړو، لکه دوديز کلتور، خو په حکومتولۍ ښه پوهه د هغې د ټولو خواوو په نظر کې ساتل غواړي. د ښې حکومتولۍ مهم اړخونه عبارت دي: د قانون حاکميت، روڼوالی (شفافيت) او د درغليو کچه کمول، د اړوندو خلکو شموليت په پريکړو کې، حساب ورکول، عامه او کاروباري خلکو ته د دولتي مقرراتو د پلي کولو لړ خندونه، او سياسي ثبات.

په يوه ملک او د هغو په سکتورونو کې د حکومتولۍ د ارزونې لپاره له دريو محورونو او شپږو بنسټونو څخه کار اخلي. په بل عبارت که دا درې محوره او شپږ اصله سم و نو ويلای شو چې د هغه ملک په هغه سکتور کې حکومتولي سمه ده. دا درې محوورنه دی:

- د حکومتولۍ اساسي ستنې – قوانين، کړنلارې (پاليسۍ)، او نهادونه – د کاغذ په مخ څنګه ښکاري؛
- څنګه د پاليسۍ او پلي کولو پريکړې کيږي؛ او
- څومره په عمل کې حکومتولي ښه کار ورکوي.

هر يو د پورته محوونو په اجزاوو او هر يو جز په فرعي اجزاوو ويشل کيږي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

همدارنګه، پورته محورونو او دهغو د اجزاوو د سمي ارزوني لپاره په شپږو اصولو تکيه کيږي. دا شپږ اصول په لاندې ډول دي:

- حساب ورکول – دا چي خلک او نهادونه د خپلو کړنو په اړه حساب ورکوونکي وي
- کاروړکړي ـ دا چي د حکومتولی میکانیزمونه خپلي ټاکل شوي پايلي تر لاسه کړي
- موثريت – دا چي حکومتولي په لږو ضايعاتو او کم لګښت کار وکړي
- عدالت – داچي د اړونده سکتور ګټي، مصارف او تکليفونه داسي وي چي عادلانه وبلل شي
- مشارکت – دا چي ټول علاقه لرونکي خلک فرصت ولري چي واوريدل شي، يا د دولت په هغو پريکړو اثر وکړي چي هغه سکتور او دوی اغيزمن کوي
- روڼوالی (شفافيت) – دا چي د هغه سکتور په هکله مالومات او چي څنګه اداره کيږي په مناسب ډول ورته لاسرسی ولری.

که غواړو چي حکومتولي په ملک کي  وارزوو، اصلاح په کي راولو، او ټينګه يې کړو په پورته محورونو او اصولو بايد ځان پوه کړو او ورڅخه کار واخلو. ښه حکومتولي، سياسي ثبات، سوله او امنيت له يو بل سره تړلي دي، دا ښکارندې په ملک کي د ښوونيز، اقتصادي او سياسي نظام د غوړيدا لپاره اړين دي او له شتون پرته يي پرمختګ او سوکالي ناممکن کار دی. اوس بايد پوه شو چي ښه حکومتولي څه شی ده.

که په کوم ملک کي قانون برلاسی و، په پريکړو کي روڼوالی و، د درغليو او فساد کچه کمه وه، د خلکو په اړوندو پريکړو کي ګډون زيات و، دولتي کسانو ټل خلکو ته حساب ورکاوه، دولتي مقرراتو خلکو ته زيات خندونه نه جوړول او سياسي ثبات موجود و نو ويلای شو چي دا ملک ښه حکومتولي لري. که موږ غواړو چي حکومتولي سمه کړو، ثبات راولو او ملک مو پرمختګ وکړي نو بايد ملت او دولت په ګډه د پورته ښکارندو د ټينګښت لپاره يو بل ته لاس ورکړي او اصلاحات راولي.

د هيواد له شتمنيو او زيرمو سمه ګټه هغه وخت اخيستل کيږي چي په ملک کي ښه حکومتولي وي. که ښه حکومتولي نه وي د ملي زيرمو څخه سمه ګټه نه اخيستل کيږي، جرمونه عام شي، د ځمکو مالکيت روښانه نه وی، د ملک عام خلک بي وسه وي، خلکو ته عامه خدمتونه نه وړاندي کيږي، د خلکو اقتصاد نه غوړيږي، خلک د چاپيريال خدمتونو لکه پاکي هوا او اوبو له کاروني محروم وي او د ګټو مساوي ويش ته لاسرسی نه لري.

## په افغانستان د حکومتولی حالت:

په افغانستان کي د حکومتولی وضع په خورا بد حالت کي ده. که پورته تعريفونو، محورونو او اصولو ته ښه ځير شو. په ټولو کي موږ ستونزي لرو. دا چي ولي موږ دا ستونزي لرو او لاملونه يې څه دي دلته يې ځيني لاملونه ذکر کيږي: لاملونه به يې زيات وي زه يې دلته يو څو يادوم، دلته زه هغه څه يادوم چي په رښتيا پيښ شول او د دې ليکني موخه دا نه ده چي ملامت او سلامت، ګرم او ناګرم په ګوته شي: (۱) که څه هم زموږ خلکو د هيواد زياتي سربښندني وکړې او ډېرې قرباني يي ورکړې خو کله چي جهاد د مسلمانانو په منځ کي په خپل منځي جنګ واوړي، اوږد شي، خلک محتاج، مهاجر، بيوزله، نالوستي او له ښو رهبرانو محروم شي ښه ديني او تولنيز ارزښتونه له لاسه ورکوي. په همدې ترتيب زموږ زيات خلک د مجبوريتونو په بهير کي يو ډول معامله ګر عادت شول، چي هرچيرې يي ښه وه هلته يي شپه شوه، بهرنيانو مو له مجبوريتونو بده ګټه پورته کړه، روسانو له يوي خوا پريمانه امدادي مواد او مرستي راکړل، خو د خپلو خلکو سره د جنګ او د هغوی د اجباري کوچ لامل هم شول، ، زموږ خلک مجبور شول چي خپلو طبيعي دښمنانو يا هغه چاته چي ورسره ارضي ستونزي او يا نورې تاريخي ناندرى او ستونزي لرو پنا وروړي، (۲) په ايران او پاکستان کي مو مفت ډاشونه وخوړل، عربو، غربيانو او نورو پيسي، موټرې، وسلي او نور امکانات راکړل تر څو بيا هم خپل هيواد وران کړو او خپل خلک ووژنو، د وسلو، مهماتو، پيسو او نورو موادو لپاره هر چاته اړ شوو او لاس مو ورته ونيو، (۳) موسسو  هغه کاروونه پيل کړل چي پخوا به خلکو په خپله د حشر په مرسته کول لکه د کانالونه او کاريزونو پاکول او په دې ترتيب مو خلک مفت خواره  او تنبل شول، (۴)  هغه وسلي او پيسي چي نورو راکړې وې زموږ په خلکو کي د شرافت، عزت او اقتدار نښه شوه، (۵) د هيواد ښوونيز او اقتصادي سيستمونه او دولتي نهادونه او نظام ټول وشړيدل، کادرونه مو شهيدان، بوډاګان او يا مهاجر شول او د قانون حاکميت او دولتي نهادونه ټول له منځه لاړل، (۶) بی سواده، جاهل او زورواکان په واک کي شول چي تر قانون يي پورته عمل کاوه او تر ملي ګټو يي خپلي ګټي غوره بللي، مجلل او شاهانه ژوند او عياشی ته يي ملا وتړله، د پخوانيو شعارونو لکه اسلامي او الهي نظام د پلي کولو په ځای يي قومی، ژبنيو او سمت پالني ته لاس واچاوه، (۷) په کمين کي ناستو بهرنيو کړيو او غليمانو ته مو موکه په لاس ورغله چي زموږ نالوستي، بی خبره او بيوزله خلک له يو بل سره د اوږده وخت لپاره وجنګوي، په منځ کي يي کرکي او نفرتونه راپيدا کړي او دا لړۍ اوس هم روانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ده. د نظام په وړاندې وسلوال پاڅون ځکه نه کابوو کیږي چې دلته په نظام کې زورواکان نه پریږدي هغه مشروعیت ومومي، دوی د ځان ګټې په همدې ګډوډۍ کې ګوري تر څو نورې ګوټې وغوزوي، نورې دولتي او شخصي ځمکې لاندې کړي، له کانونو ناروا ګټه واخلي او د ملک اډانه او تاریخ بدل کړي.

زموږ د خلکو ۳۶ سلنه د بیوزلۍ (فقر) تر کرښې ټیټ دي، ډیر لږ مو د څښلو پاکو اوبو او صحي تشناب او حفظ الصحې ته لاسرسی لری، په سلو کې ۷۴ کسان نالوستي دی، د خلکو اوسط عمر مو ۴۸ کاله دی، او په هرو زرو نووو زیږونو کې ۱۰۳ ماشومان مري چې د نړۍ تر ټولو لوړ رقم دی. خو په همدې خوار او بیوزله افغانستان کې د نړۍ تر هر شتمن کس لکس ژوند ځینو ته ورسید. د ګوتو په شمار خلک ملیاردران شول او نور ملت ورته په بې وسۍ او لوږې کې کتل نو ځوان نسل مو د ناهیلۍ څخه مهاجرتونو ته مخه کړه.

تر ټولو بده داچې ځینې لګیا دي زموږ تاریخ مسخ کوي، د هیواد ملي وحدت، ملي هویت، ملي شخصیتونو او ملي قهرمانانو ته سپکاوی کوي. هغوی ځان ته حق ورکوي خپلو سیاسي مخالفینو ته سپک او سپور ووایي او ښکنځلې ورته ورکړي.

پورته حالت زموږ ټول غوره ټولنیز او دیني ارزښتونه او ملي کلتور او فرهنګ له منځه یوړل او په پای کې د هیواد ګټې، میرانه، له الله تعالی ویره، په لږ شي قناعت، غوره کلتور او نور زیات ښه ارزښتونه مو له پامه وغورځول شول. د پیسو ټولولو، د شخصي او دولتي ځمکو غصب، رشوت، درواغ، له پردو سره د هیواد په سر معامله، د انسان وژنه او نور روا کارونه وبلل شول.

کله چې تعصب، کرکې او قومي توپیرونه زیات شي، نظام کمزوری او حکومتولي وشړیږي په ټولو خلکو اغیزه کوي. زموږ په مسلکي کسانو کې به ځینې پاک خلک وي خو زیات یې په خواشینۍ سره که څه هم د ملت له مالي امکاناتو روزل شوي دي، له بودجې یې معاش خوري، له لوکسو موټرو یې ګټه اخلي خو په زیاتو کې مسوولیت پیژندنه، د کار سره مینه او د کار اخلاق په نشت حساب دي. په خواشینۍ سره دا حال زموږ په ادارو کې له ورایه څرګندیږي.

په نوره نړۍ کې خلک کار، د کاراخلاقو، وظیفې پیژندلو او هیواد ته خدمت کولو ته د خپلو ځانونو او نورو د شخصیت د جوړونې او د انسانیت د تکامل د وسیلې په سترګه ګوري. خو په موږ کې دولتي څوکۍ د خدمت نه بلکه د پیسو پیدا کولو وسیله شوې. زموږ په هر سکتور او اداره کې به ځینې پاک او زړه سواندې کسان وي خو په ټولیزه توګه زیاتې ادارې مو د سمو خدمتونو له وړاندې کولو عاجزې دي. که تاسو هرې شفاخانې ته سر ورښکاره کړی، نه سم مدیریت شته، نه غوره خدمت، نه کوم د کار کولو منل شوې ستنډرد، کړنلاره او تګلاره شته. ډاکتر او نرس په مجلس او فسبوک کې لګیا وي او د ناروغ په غم کې نه وي.

هغه بله ورځ زما د یوه دوست د ګټې وټې مشر زوی موټر وهلی و او کومې دولتي شفاخانې ته یې وړی و. راته کیسه یې کوله چې که څه هم هغه روغتون په ظاهره سم ښکاري، خورا زیات لګښتونه وربانديې شوي، خو د بې پروایۍ او نه مدیریت یو ښه نړیوال مثال کیدای شي. ناروغ د کوما په حالت کې و، کورنۍ یې غوښتل چې هند یا پاکستان ته یې ولیږدوي، خو په هغو روغتون کې یې ورته ویلي و چې که مو زیات وخوځاوه نور هم خرابیږي. په ساعتونو یې سیروم ورته ورکړي و، خو د بولو څخه یې خبر نه وو. کمبخت ناروغ پښې وهي خو خبرې نه شي کولای، تر ساعتونو وروسته یې کوم خپلوان ور فکر شوی و، ډاکترانو او نرسانو ته یې ویلي و او د نل په مټ یې بولې خارجې کړې وې، د مثانې تکلیف ورته پیدا شوی و. پلار خوارکي یې په رښو اوښکو ژړل او بدې ورځې یې کولې او د علاج درک یې نه لګیده او تر دریو ورځو وروسته پوه شول چې باید بهر ته یې ولیږدوي. ناروغ ته یې له زیاتو ستونزو د کوم وکیل به مرسته د پاکستان له سفارت څخه ویزه ترلاسه کړې وه. هغه پاکستان ته یې بار کړ چې په موږ یې څه حال راوستی!

په ښوونځیو کې شخړې او ځورونې عامې شوې دي او د درس ورکولو معیار خورا ټیټ دی. په پوهنتونو کې زاړه نوټونه درس ورکول کیږي او د کوریکولم له اصلاح سره زیات استادان علاقه نه لري، د ملت او دولت د اړتیاوو سره برابر مضامین درس نه ورکول کیږي. د پوهنتونو او د هغوی د خدمتونو د سرټیفیکشن او معیاري کیدو درک نه شته. د چا څیړنو او عملي کار ته فکر نه دی.

یو ځوان چې له پوهنتون څخه فارغ شي، یا بې کاره شي، که واسطه و نه لري څوک یې په کیسه کې نه وي، ادراه په اداره ګرزي څوک یې له خالي پستونو نه خبروي. که په کومه اداره کې کمبود هم وي او غوښتنلیک ورکړي څوک وربانديې سر نه ګروي، هر مخور ته ورځي که واسطه یې شي خو څوک یې په درد نه خوري. ځکه په نن زمانه کې یوازې د هغه چا سپارښتنه قبلیږي چې یا په ولسي جرګه کې ښه ستر پارلیماني ګروپ ولري، یا هغه څوک چې بل زور ورته زور کیدای شي څوک ورته غوږ کیږدي.

کله چې تاسو له رادیو اوری چې کوم سرباز او یا کوم معیوب کس سره له زیاتو هڅو په میاشتو میاشتو خپل معاش نه وي اخیستی، هغه دروازه په دروازه ګرزي څوک یې غږ نه اوري، له هجرت څخه د راستندونکي زده کوونکي بوډا او بې سرپناه پلار د زوی اسناد په لاس لالهانده ګرزي چې خپل زوی په ښوونځی کې داخل کړي خو له یوې

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اداري بلې ته استول کېږي بيله دې چې کار يې خلاص شي زړه مو درد کوي خو دا زموږ د هيواد ترخه واقعيتونه دي.
د هيواد د سړکونو په رغونه او پخولو په سلهاوو مليونه افغانۍ لګېږي خو د ټيټ کاري کيفيت، د ستندرد د نه مراعات، خرابو موادو کاروني او نورو له کبله په اکثره ځايونو کې تر تکميل يوه مياشت وروسته بيرته خرابيږي. خو دا شرکتونه خدای په سر نه حاضروي، د خپل کار معيار نه ښه کوي، نه ورځخه څوک پوښتنه کوي.
ټول خبر دي چې ځيني لوړپوړي چارواکي د خپلوانو په نامه شرکتونه لري، که څه هم دا د نړيوالو او د افغانستان د ملي قوانينو خلاف کار دی، او دي ته د ګټو تضاد وايي او ممکنه نه ده چې څوک دې د برحاله چارواکي له شرکت سره د پروژو په اخيستلو کې سيالي وکړي، خو که کله داسې پيښه شي چې کوم بل شرکت له چارواکي پروژه وګټي په يوه او يا بله بانه د شرکت خاوند چارواکی پروژه نه مني او ردوي يې. دا او ورته درغلی د پروژو په پلي کولو کې زيات خنډونه رامنځته کوي، زيات وخت نيسي او کارونه په ټپه ولاړ وي.
د ښه پلان او مديريت د نه شتون له کبله، د درغليو او فساد د خنډونو له لاسه زموږ د ادارو بودجه يوازې له ۳۰ سلنه څخه ۴۰ سلنه پورې مصرفيږي. په دې يوه نيمه لسيزه کې له دې ډېره کمه زده کړه وشوه او هر کال دا ستونزه تکرار شوه. که دا بودجې سمې او پوره لګول شوې وای اوس به زموږ هيواد له ۵۰ سلنه او يا ان ۶۰ سلنه زيات اباد شوی وای. سږ کال جمهور رئيس دا مسئله ډېره جدي نيولې ده خو په خواشينی سره چې کوم سم د مديريت سيستم نه شته باور مې نه شته چې زياته بودجه به مصرف شي او پيسې به پاته شي.
د بوديجې د نه مصرف به زيات لاملونه وي خو زما په باور ځيني يې دادي: (۱) زموږ اداري د تيرو تيروتنو او ستونزو ارزونه نه کوي تر څو يې وپيژني، ورځخه زده کړه وکړي او د هغو په مرسته د راتلونکی کال لپاره يو ښه مسلکي پلان جوړ او پلې کړي تر څو تيروتني بيا بيا تکرار نه شي، (۲) فکر کيږي چې پروژې او پروپوزلونه ځکه ځنډيږي چې د معامله ګرۍ لپاره ځينو ښکيلو خواوو ته د ښکار موکه په لاس ورشي ځکه په کم وخت کې معامله کول ستونزمن کار وي، (۳) په دولتي ادارو کې د لياقت او تجربې په اساس نه بلکه د خپلوۍ، قوم او ګوندي اړيکو په اساس ټاکني ددې مخه نيسي چې کار اهل د کار ته وسپارل شي، زر کارونه او پروژې جوړې او پلې شي، له مشاورينو سم کاروالخلي او بودجه مصرف کړي ترڅو هيواد ودان او کارپوه خو بيوزلو کادرونو ته هم کار پيدا شي، (۴) په هيواد کې د حساب او کتاب نه شتون ياپې خورا کمزورتيا، په هر قيمت د زوروړو لخوا د خپلو کسانو حمايه، د معافيت کلتور او نور د دې لامل شوی چې د کم کاره چارواکو ويره نه کيږي او هرڅه چې کوي په مخ يې وړي، (۵) په پريکړو کې رونوالی يا بيخي نه شته او يا بيخي کم دی، نو ځکه چارواکو ته زمينه برابريږي چې د چا خبره تر وښو لاندې اوبه تيرې کړي او پټه معامله وکړي، (۶) د زورواکانو غوښتني هم دولتي اداري کارته نه پريږدي، هغوی په هر قيمت چې وي، خپلوان مقرروي، پروژې که حق يې وي او که نه ترلاسه کوي يې، (۷) په هيواد کې دوه سره حکومت يو بل لوی خنډ دی. ځيني خو له خدايه نه ويريږي، خو په خپله ناکامی، تاريخي رسوايی، هم يا نه پوهيږي او يا ورسره وس نه شته او اوبو په سر اخيستي، لوټه ړدي او تيريږي، د خپلي خوا هره ناروا ښه بولي او ورځخه ننګه کوي، (۸) په هيواد کې د يوه منظم، پاک او قوي سياسي تحريک نه شتون ترڅو له يوې خوا له نظام سره په ښو کې لاس ورکړي او له بلې خوا فاسدو چاروکو ته په ميرانه او له بيلګو سره ګوته ونيسي او رسوا يې کړي، (۹) د بې پرې، وړتيا لرونکو او مسلکي مدني ټولنو، ازادو رسنيو او مسلکي او څيړنيز ژورناليزم نه شتون ترڅو په کمښتونو په وخت مسلکي نيوکه وکړي. زموږ زياتې رسنۍ او مدني ټولني په خواشينی سره پروژوي ښه لري، په زياتو سياسي او قومي موضوعاتو کې راګير دي او د ځينو داخلي او غرض لرونکو بهرنيو کړيو لخوا تمويليږي.

## دا ننګوني څنګه اصلاح کړو؟

که څه هم د هيواد جمهور رئيس هڅه کوي چې کله کله ځينو دولتي ادارو ته سر ورښکاره کړي، د ښو خدمتونو او کمښتونو ارزونه وکړي، مکافات او مجازات ورکړي چې د عوامو هيلې يې يو څه راټوکولې او يو څه ښه ګامونه هم اخيستل شوي، لکه دولتي عوايد په ځينو ساحو کې زيات شوي او ځيني مفسد چارواکي له کاره ګوښه شوي دي. په نورو کې ويره راپيدا شوې. دا ښه ګامونه دي بايد دوام ورکړل شي، خو کافي نه دي. اړتيا ده دا لاندې ګامونه هم واخيستل شي:
د حکومتولی پورته ياد شوي غوښتني بايد پوره عملي شي. قانون پلی، په پريکړو کې رونوالی، حساب ورکول، بايد په کلکه مراعات شي. زياته اړينه ده چې د معاصر مديريت څخه بايد ګټه واخيستل شي. په معاصر مديريت کې په دولتي ادارو کې ستندرد مقررات، د هر کارمند لپاره د کار لايحه، مکافات، مجازات، او مديريتي سيستم بايد رامنځته شي.
مديريتي سيستم دادی چې وزارت، اداره يا هر بل سازمان لکه فابريکه يا روغتون هغه څه کوي چې خپلې کاري پروسې يا فعاليتونه مديريت کړي ترڅو يې توليدات يا خدمتونه د سازمان هدفونه ترلاسه کړي، داسې چې د مشتريانو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

غوښتني په ښه کيفيت ترلاسه او د مقرراتو مراعات هم وکړي. د دې لپاره چې په رښتيا موثر وي او کار وکړي، سازمان (اداره) خپل کارونه ښه مديريت کولای شي که چيرې يې په سيستم کې واچوي. په سيستم کې هيڅ مهم څيز له نظره نه غورځول کيږي، هرڅس په روښانه پوهيږي چې، څوک د څه لپاره، کله، څنګه، ولې او چيرته مسوول دی. ستندرد مديريتي سيستم سازمان يا اداري ته يو نړيوال معاصر مودل په لاس ورکوي چې ورڅخه پيروي وکړي. ستر سازمانونه، يا هغوی چې پيچلې پروسې لري، د مديريتي سيستم څخه پرته سم فعاليت نه شي کولای. هغه کمپنۍ چې په موټر جوړولو، فضايي کارونو، دفاع، يا روغتيايي خدمتونو رسولو او يا د ملک په د ښوونيز نظام په چلولو کې لګيا دي د زياتو کلونو راهيسې له مديريتي سيستم څخه کار اخلي. د ISO 9001 او ISO 14001 ستندرد مديريتي سيستمونه اوس اوس دا برياليي لاربښووني او خدمتونه و ټولو سازمانونو ته برابروي. خو دلته اړوندو کارپوهانو ته اړتيا ده چې دا په يوه اداره کې پلي کړي او د بريا شرط يې هم دادی چې د هغې اداري رهبري يې په کلکه وغواړي، رهبري او په کلکه يې پلي کړي. زه وړانديز کوم چې دولت بايد يو څو هغه اداري لکه وزارتونه، شفاخاني، پوهنتونونه او نور د دې ستندردونو او سيستمونو د پلي کولو لپاره وټاکي چې جوړښت(ساختار) يې سم، مديران يې ځوان، نوښتګر او په خبره يې سر خلاصيږي. يو يا دوه کارپوه مشاورين د هغو د پلي کولو څخه د يو څه وخت لپاره نظارت وکړي، د تلپاتي پلان، نظارت او ارزوني کلتور په کې نهادينه شي نو بريا مومي. دا سيستم چې کله په يوه يا څو ادارو کې په بريا پلې او ښې پايلې ورکړي، بيا دولت په اسانی سره هغه په نورو دولتي ادارو کې پلي کولای شي.

همدارنګه، اړتيا ده په دولتي ادارو کې پلان کول، پلي کول، ارزول او ورڅخه زده کړه نهادينه شي. د يوې ملي پاليسۍ په رڼا کې هره ملي اداره په خپله کاري ساحه او يا سکتور کې، د هيواد د شرايطو او زيرمو سره سم د داخلي او يا بهرنيو کارپوهانو په مټ د خپلو ادارو لپاره په مشارکتي توګه اوږد مهاله ستراتيژيکي تګلارې جوړې او ورته منځ مهاله او لنډ مهاله د عمل پلانونه جوړ او پلي کړي. که دا پروسه څو ځلې تکرار شي، د ښکيلو کادرونو او ادارو ظرفيت خورا لوړيږي، په کم وخت کې ستري پروژې طرح او په بريا پلي کولای شي. خو د بريا شرط دادی چې، د پلان کولو، ارزولو او ورڅخه د زده کړې دواملرونکي دا پروسه په رښتيا مشارکتي وي، د هرې ادارې د رهبری لخوا په ژمنتيا او د نورو کار کوونکو په رښتياني شموليت کې ترسره شي. دا پروسه په لاندې شکل کې ښه ښودل شوې ده.

په شکل کې ګورو چې پلان کول بايد پلي شي، وارزول شي، له تيروتنو او ګټورو تجربو څخه د راتلونکي بل پلان د اصلاح لپاره کار واخيستل شي. دې ته يو سيستم وايي چې تل په اړوندو ټاکلو وختونو کې تکراريږي او ځان اصلاح کوي.






افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د پورته ویناوو سره سم یو څو لنډي سپارښتني:**

1. د فساد ورکولو، د ښې حکومتولی د ټینګښت، په ټولو د قانون د یو شان تطبیق لپاره باید دولت یوه ملي کړنلاره، د پلي کولو تګلاره، کلکه سیاسي اراده او ملي اجماع رامنځته او خپلې پریکړې د قانون په بنسټ په کلکه پلي کړي،

2. د کاروپوهانو، رسنیو او منابرو په مرسته باید د دې پورته ناوړه کلتور، فساد او مسوولیت نه منلو ناوړه پایلي عوامو خلکو ته بیان، او د دې حالت څخه د وتو لپاره د ملي اجماع په رامنځته کیدو کې مرسته وکړي،

3. د مسوولیت نه منلو، د غوره کار اخلاق نه لرلو، له خلکو او وظیفي سره د بېغوري کولوپه وړاندې د قوانینو د پلي کولو ترڅنګ باید د معنوي لاربوونو، دیني موعظو، هنرى او مدني فعالیتونو، لیکنو، مجازاتو او مکافاتو ورکولو او نورو له لارې ټینګه مبارزه وشي،

4. فساد او له دولتي امکاناتو د ځاني او سیاسي ګټو لپاره کارول یوه ټولنیزه او کلتوري ناروغي ده او د دیني او سیاسي تقوا د نشتون څخه راپیدا کیږي، د زماني په تیریدو په عادت بدلیږي، سمول یې ستونزمن کار دی او زیات وخت غواړي. همدارنګه، د ښې حکومتولی د ټینګښت او درغلیو د ورکولو لپاره کلکې سیاسي ارادې، په ټولو خلکو د قوانینو یو شان تطبیق کولو ته اړتیا ده. همدارنګه، ښه ښوونیز نظام، پاک او اغیزمن شخصیتونه، لیکوالان، واعظان، وړتیا لرونکی روحانی شخصیتونه، او تر ټولو ستر مهم او زیات ستر ملي زعیمان هم زیات رول لري او باید ادا یې کړي،

5. سیاسي ګوندونه که په رښتیا غواړي د شعار په ځای عمل وکړي، خلکو ته د خدمت له لارې درناوی تر لاسه کړي، خپلې تیروتني جبران کړي، افغان ملت له فساده خلاص او د ښې حکومتولی خاوند یې کړي نو باید پخپله رهبري یې فساد او زورګویی ته نه ووایي، غوره کادرونه وروزي، خلکو ته الګو شي، اړوندې دولتي اداري چې دوي د کسانو تر رهبری لاندې وي نمونه، له فساده پاکې او د سترو وړتیاوو لرونکې کړي،

6. مدني فعالان، روڼ اندي، دعوتګران، لیکوالان او پاک سیاستوال باید یو بل ته لاس ورکړي، داسي ګډ ملي خوځښت رامنځته کړي چې درغلیو، فساد او مسوولیت نه منلو ته نه ووایي، فاسد کسان د قانون په بنسټ رسوا او خلکو ته ورو‌پیژندل شی، له مفسدینو د قانون څخه بهر ننګه کول شرم وبلل شي، او له خپله ځانه اصلاحات پیل کړي،

7. د هر راز فساد د رسوا کولو لپاره څیړنیز ژورنالیزم او اړوندو رسنیو ته وده ورکړل شي، په اړوندو سکتورونو او کاري ساحو کې ژورنالستان وروزل شي، په بې پرې او عادلانه توګه د بیلګو او شواهدو په بنسټ د مفسدینو رسوا کوونکي حفاظت او ونازول شي،

8. هرڅومره زر چې ممکنه وي، د هیواد لپاره کادري او د بشري منابعو پالیسي او اړونده قانون او مقررات رامنځته او په کلکه یې پلي کړي،

9. د همدې کړنلارې، قوانینو او اړوندو مقرراتو په بنسټ یې د وړتیا له مخې په کار ګومارنه حتمي شي، د هر دولتي مسوول لخوا پخپله اداره کې د خپلوانو مقرري غیر قانوني اعلان شي، د ګوندي، سمتي، قومي او ژبنيو لاملونو له کبله په کار ګومارل جرم وبلل شي او سرغړوونکو ته د قانون په اساس سخته سزا، او په رښتیا سره پلي کوونکو ته مکافات ورکړل شي،

10. د ټولو دولتي ادارو لپاره د اداري د مشرتابه په رهبری او د ټولو اړوندو کارکوونکو په ګډون پلان جوړول، ارزول او ورڅخه زده کړه او په راتلونکی پلان جوړونه کې ورڅخه ګټه اخیستنه لازمي او قانوني غوښتنه اشي،

11. ټولې اداري د خپلو پلانونو د پلي کولو، لاسته راوړنو، پاته راتلو، او د هغو د لاملونو راپور موظفي دولتی اداري ته په ټاکلي وخت وړاندې کړي او مسوولیت واخلي،

12. په دې هکله دولت باید د کدرونو په روزلو، د دولتی ادارو د وړتیاوو او ظرفیت په لوړولو کې زیاته پانګونه وکړي. د همدې پلان کولو په پروسه کې ترپلي کولو مخکې باید داسي شاخصونه (Indicators) وټاکل شي چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هغو له مخي هره اداره خپل پرمختګ او پاته راتلل وارزوي، راپور يې تيار او په ټاکلي وخت يې له اړوندو موظفو ادارو سره شريک کړي،

13. په ادارو کې بايد د ښه کار او غوره لاسته راوړنو لپاره نړيوالي معياري لايحې، مقررات او يو سيستم رامنځته شي. د هغو ستندرد لايحو او سيستم په بنسټ بايد ټولي اداري کار وکړي او کارونه يې د هغو سره سم عيار شي،

14. د دې لپاره چې درغلي د مفسدينو لپاره ګرانه شي بايد په ټولو پريکړو، په کار ګومارنو، د قراردادونو په ورکړه، د پروژو په ويش او نورو کې زياته روڼتيا رامنځته او په کلکه مراعات شي، له سرغړوونکو سره بې له توپيره قانوني چلند وشي،

15. د خدمتونو د وړاندې کولو لکه د پاسپورت، جوازونو، لايسنسونو، شرکت راجستر کولو، جريمي تحويلولو، معاش تر لاسه کولو او داسي نورو بهيرونه زيات ساده او شفاف شي، تر څو د رشوت مخه ډب شي او له بلې خوا د خلکو وخت ضايع نه شي،

16. د زياتو برياليو ادارو او شخصيتونو خدمتونه، د کار طريقي او لاسته راوړني د دولتي زعامت لخوا خلکو ته تشريح او وستايل شي، ترڅو نور هم وهڅول شي او د کار غوره اخلاق رامنځته، ټينګ او په يوه کاري کلتور بدل شي.

**د داسي ورځي په هيله چې سياستوال، دولتي چارواکي او ټول مسلکي کسان مو ښې حکومتلی او د قانون حاکميت ته ژمن وی، د خدمت تنده او د زيات او غوره کار اخلاق ولري.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ